# النازعات

**مکی سورة دی ۴۶ آیتونه لری**
**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

وَٱلنَّٰزِعَٰتِ غَرۡقٗا ١

**قسم په هغو پربښتو چې( د کافرانو او مشرکینو ارواح) په قهر او شدت سره راوباسی.**

وَٱلنَّٰشِطَٰتِ نَشۡطٗا ٢

**او قسم په هغو پربښتو چې( د نیکو او صالحو مؤمنینو ارواح) په نرمی او مهربانی سره وباسی.**

وَٱلسَّٰبِحَٰتِ سَبۡحٗا ٣

**او قسم په هغو پربښتو چې (د الهی احکامو او فرمانونو د تطبیق او انفاذ لپاره) په سرعت سره نازلیږی.**

فَٱلسَّٰبِقَٰتِ سَبۡقٗا ٤

**او قسم په هغو پربښتو چې( په ایمان، عبادت، پرستش او اطاعت کې) له یو بل نه وړاندې کیږی.**

فَٱلۡمُدَبِّرَٰتِ أَمۡرٗا ٥

**او قسم په هغوپربښتو چې( د الله تعالی په امر د هستی د جهان چارې) اداره کوی( چې تاسو تول به د حساب او کتاب او مکافات او مجازات لپاره له قبرونو بیرته راژوندی کړی شئ).**

يَوۡمَ تَرۡجُفُ ٱلرَّاجِفَةُ ٦

**په هغه ورځ چې( له لومړی شپیلی سره) یوه زلزله په ډیر شدت سره هرڅه ولرزوی.**

تَتۡبَعُهَا ٱلرَّادِفَةُ ٧

**او په هغې پسې( له دویمې شپیلی سره) بیا بله زلزله رامنځته شی.**

قُلُوبٞ يَوۡمَئِذٖ وَاجِفَةٌ ٨

**( له بعثت نه د منکرینو) زړونه به په دغه ورځ له ویرې او اضطراب نه ډک او په لرزه وی.**

أَبۡصَٰرُهَا خَٰشِعَةٞ ٩

**سترګې به یې ټیټې او د ذلت او پښیمانی نښې به پکې له ورایه څرګندې وی.**

يَقُولُونَ أَءِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِي ٱلْحَافِرَةِ ﴿١٠﴾

**(کافران خو اوس د ملنډو او استهزاء په توګه) وایی: مونږ به( له مرګه وروسته) بیرته راژوندی کیږو؟**

أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا نَّخِرَةً ﴿١١﴾

**وروسته له دې چې زمونږ هډوکی به له خاورو سره خاورې شوی وی.**

قَالُواْ تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴿١٢﴾

**ربښتیا هم دغه ډول( قیامت) به له زیان او تاوان نه ډک وی.**

فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَٰحِدَةٌ ﴿١٣﴾

**( الله پاک فرمایی:) دغه دویم ژوند به په یوه عظیمه چیغه پیل شی.**

فَإِذَا هُم بِٱلسَّاهِرَةِ ﴿١٤﴾

**او ورسره به (ټول مخلوقات) په یوه هوار میدان کې ولاړ وی.**

هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ﴿١٥﴾

**( ای پیغمبره!) آیا د موسی له کیسې نه خبر یې؟**

إِذْ نَادَىٰهُ رَبُّهُۥ بِٱلْوَادِ ٱلْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾

**چې رب یې ورباندې د طوی په پاکه او مبارکه دره کې غږ وکړ:**

ٱذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿١٧﴾

**فرعون ته ورشه چې د بغاوت اعلان یې کړی.**

فَقُلْ هَل لَّكَ إِلَىٰٓ أَن تَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾

**ورته ووایه: که غواړې چې ( له شرک او طغیان نه) پاک شې؟**

وَأَهْدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ فَتَخْشَىٰ ﴿١٩﴾

**نو زه به درته ستا د رب د هدایت لاره دروښایم. (د هغه له عذابه) وویریږه( او له سرکشی نه لاس واخله).**

فَأَرَىٰهُ ٱلْـَٔايَةَ ٱلْكُبْرَىٰ ﴿٢٠﴾

**او فرعون ته یې( د هغه عصر تر ټولو) لویه معجزه هم وړاندې کړه.**

فَكَذَّبَ وَعَصَىٰ ﴿٢١﴾

**خو هغه درواغ وګڼله او خپل بغاوت ته يې دوام ورکړ.**

ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعَىٰ ﴿٢٢﴾

**له( حق منلو نه يې) مخ ستون کړ( او د موسی د وژلو تابيا يې وکړه).**

فَحَشَرَ فَنَادَىٰ ﴿٢٣﴾

**(خپل قوم يې) راوغوښت او اعلان يې ورته وکړ:**

فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٢٤﴾

**ويې ويل: ( واورئ چې) زه ستاسو لوی رب يم.**

فَأَخَذَهُ ٱللَّهُ نَكَالَ ٱلْـَٔاخِرَةِ وَٱلْأُولَىٰٓ ﴿٢٥﴾

**نو الله تعالی هم، هغه( د دغه ناروا ادعا په جرم د ټولو لښکريانو سره يې په سيند لاهو او) د دنيا او آخرت په ستر عذاب يې اخته کړ.**

إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰٓ ﴿٢٦﴾

**بيشکه چې په دغه ستره پيښه کې( له الهی عذابه) د هر ويريدونکی لپاره د عبرت ډير ښه درس پروت دی.**

ءَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُ ۚ بَنَىٰهَا ﴿٢٧﴾

**آيا ستاسو بيرته راژوندی کول سخت کار دی او که د آسمانونو پيدايښت( چې الله تعالی پخپل کامل قدرت) جوړ کړی دی.**

رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّىٰهَا ﴿٢٨﴾

**چت يې ورله اوچت او بيا يې( د هغه نظم او توازن) ډير ښه برابر کړ.**

وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَىٰهَا ﴿٢٩﴾

**شپه يې ورله( د لمر په پريوتو) تياره او ورځ يې ورله ( د لمر په راختلو)روښانه راڅرګنده کړه.**

وَٱلْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ﴿٣٠﴾

**بيا يې ځمکه هواره وغوړوله.**

أَخۡرَجَ مِنۡهَا مَآءَهَا وَمَرۡعَىٰهَا ﴿٣١﴾

**او اوبه او ورشوګاني يې پکې راپورته کړې.**

وَٱلۡجِبَالَ أَرۡسَىٰهَا ﴿٣٢﴾

**او غرونه يې پکې ټينګ او مستحکم کړل( ترڅو له اضطراب او سخت تزلزل نه وژغورل شي).**

مَتَٰعٗا لَّكُمۡ وَلِأَنۡعَٰمِكُمۡ ﴿٣٣﴾

**او ستاسو او ستاسو د څارويو د ګټې او استفادې وړ وګرځي.**

فَإِذَا جَآءَتِ ٱلطَّآمَّةُ ٱلۡكُبۡرَىٰ ﴿٣٤﴾

**نو کله چې هغه ستره پيښه رامنځته شي.**

يَوۡمَ يَتَذَكَّرُ ٱلۡإِنسَٰنُ مَا سَعَىٰ ﴿٣٥﴾

**انسان ته به خپلې ټولې هلې ځلې او( ښې او بدې کړنې) وریاد شي.**

وَبُرِّزَتِ ٱلۡجَحِيمُ لِمَن يَرَىٰ ﴿٣٦﴾

**او دوزخ به هر ليدونکي ته ورڅرګند  او رامخامخ شي.**

فَأَمَّا مَن طَغَىٰ ﴿٣٧﴾

**نو چا چې سرکشي او سرغړونه کړې وي.**

وَءَاثَرَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا ﴿٣٨﴾

**او دنيوي ژوند ته يې( د آخرت په تلپاتې ژوند) ترجيح ورکړې وي.**

فَإِنَّ ٱلۡجَحِيمَ هِيَ ٱلۡمَأۡوَىٰ ﴿٣٩﴾

**دوزخ يې هستوګنځي دی.**

وَأَمَّا مَنۡ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى ٱلنَّفۡسَ عَنِ ٱلۡهَوَىٰ ﴿٤٠﴾

**خو څوک چې د خپل رب په حضور کې له احضاريدو نه ويريدلی او ځان يې له ناوړو  هوسونو نه پاک ساتلی وي.**

فَإِنَّ ٱلۡجَنَّةَ هِيَ ٱلۡمَأۡوَىٰ ﴿٤١﴾

**بې له شکه يې جنت هستوګنځی دی.**

يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرۡسَىٰهَا ﴿٤٢﴾

**( ای پيغمبره! کافران) درنه پوښتنه کوی چې قيامت به کله راځی؟**

فِيمَ أَنتَ مِن ذِكۡرَىٰهَآ ﴿٤٣﴾

**له ډيرو يادولو( او ورباندې له تبصرو سره يې) ستا څه دی؟**

إِلَىٰ رَبِّكَ مُنتَهَىٰهَآ ﴿٤٤﴾

**( د ټاکلی وخت او کيفيت) علم يې يوازې له الله تعالی سره دی.**

إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخۡشَىٰهَا ﴿٤٥﴾

**ته يوازې (د بشری پرګنو لپاره) خبروونکی او تنبيه کوونکی يې( خو له وعظ او نصيحت څخه دې يوازې هماغه خلک ګټه اخلی چې د قيامت د حساب کتاب) ويره ورسره وی.**

كَأَنَّهُمۡ يَوۡمَ يَرَوۡنَهَا لَمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا عَشِيَّةً أَوۡ ضُحَىٰهَا ﴿٤٦﴾

**د هغې ورځې په ليدلو به( منکرين) ګومان کوی چې( په دنيا کې يې) ايله يو ماښام يا سهار( لنډ وخت) تير کړی دی.**

**« تمت سورة النازعات بفضل الله و رحمته».**

**=====================**